بې شکه چې د قيامت له نښانو څخه دا دي چې علم پورته کړی شي، ناپوهي زياته شي او زنا ډيره شي، د شرابو څښل زيات شي، سړي کم شي او ښځې زياتې شي تر دې چې د پنځوسو ښځو سرپرستي به يو سړی کوي

له أنس رضي الله عنه څخه روايت دی چې ويلي يې دي: خامخا به زه تاسو ته يو حديث بيان کړم چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اوريدلي دي او زما پرته به يې بل څوک تاسو ته بيان نه کړي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: «بې شکه چې د قيامت له نښانو څخه دا دي چې علم پورته کړی شي، ناپوهي زياته شي او زنا ډيره شي، د شرابو څښل زيات شي، سړي کم شي او ښځې زياتې شي تر دې چې د پنځوسو ښځو سرپرستي به يو سړی کوي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې په دين پوهه به پورته کړای شي، او دا - کار - به د علماوو په مړينې سره کيږي، او په پايله کې جهالت زياتيږي او خپريږي، زنا او فحاشي خپريږي، د شرابو څښل زياتيږي، د نارينه و شمېر کميږي او د ښځو شمېر زياتيږي، تر دې چې پنځوس ښځې به يو سرپرست ولري تر څو يې چارې سمبالې کړي او پاملرنه ورته ولري.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65021